# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د جون اتمه | ۵۴٦مه گڼه


## ناورین او د فساد وېره؛

### د ولسي جرگې پرخلاف، مشرانو جرگې د پور اخیستلو سند تایید کړ



۳

کابینه به کله تکمیلېږي؟

۲ مخ

د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

۲ مخ

تأثیرات مثبت وبای کرونا بر محیط زیست

۳ مخ

## د ملي شورا غړي: د داعش په نامه د جگړې نوي پړاو ته د زمینې برابرول د اندېښنې وړ دي

له طالبانو سره د سولې مذاکراتو د پیلېدو په درشل کې د ملگرو ملتونو له لوري د طالبانو څخه د حزب ولایت ډلې بېلېدو او د امریکا د سولې انستېټیوټ له لوري په کابل کې د داعش ډلې جلب و جذب په تړاو مبهمو څرگندونو په افغانستان کې د جگړې د دوام په تړاو اندېښنې راپورته کړې دي. د ملي شورا غړي وايي، په افغانستان کې د داعش د پیاوړتیا په تړاو کېدونکو ادعاوو څخه څرگندېږي چې له طالبانو سره له سولې وروسته به هم جگړه د اوږدمهال لپاره ادامه پیدا کوي.

دوی وايي، د داعش لوی ښودل د افغانستان د خلکو لپاره د پوښتنې وړ دي او دا کار د افغانستان سولې په باب د امریکا نه ژمنتیا په ډاگه کوي. شنونکي د ملگرو ملتونو له لوري د طالبانو له لیکو څخه د حزب ولایت په نامه د نوي ډلې او د متحده ایالتونو د سولې انستېټیوټ له لوري د داعش جلب و جذب په باب وروستۍ ادعاوې د اندېښنې وړ بولي.

د چارو شنونکي وايي، په څرگنده توگه داسې هڅې رواني دي چې له طالبانو سره د سولې ترڅنگ په افغانستان کې د نویو ډلو ایجاد سره جگړه وغځېږي، او دا ډلې له افغانستان څخه د باندې یا په سفارتونو کې جوړېږي.

په ورته مهال د سولې له پرمختگونو باخبره کسان باور ښيي چې په مختلفو پلمو د افغانستان جغرافیې ناامنه ساتلو او جگړو دوام لپاره هڅې رواني دي، خو د دغو دسیسو د ناکامېدو یوازینۍ لار سوله ده چې په کور دننه سیاسي جهتونه یې مخه ونیسي.

## کرونا ویروس افغانستان له لوی روغتیايي ناورین سره مخ کړی دی




۲ مخ

## ولایت


۴ مخ

### د ننگرهار پېژندنه

دا چې ننگرهار د هېواد له سمسورو ولایتونو څخه دی، نو ډېری خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، په ډېریو ولسوالیو کې یې اوبه پرېمانه دي چې پراخو کرنیزو تولیداتو ته یې زمینه برابره کړې ده.



### کرنې ریاست: تر راتلونکو دوو میاشتو پورې به په هلمند کې ۱۹۹ کرنیزې پروژې پلې شي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، چې د دغه ولایت د بزگرانو او بڼوالو لپاره د ۱۹۹ کرنیزو پروژو چارې، چې پکې ۱۵۵ ممیزخونې او د پیازو ۴۸ صفر انرژۍ سړې خونې شاملې پیل شوې.

دغه پروژې د بزگرانو د کرنیزو محصولاتو د ښه مدیریت په پار د کرنې او مالدارۍ وزارت له خوا د پراختیایي شوراگانو له لارې د دوو میاشتو په لړ کې پلې کېږي.

د هلمند د کرنې او مالدارۍ رییس زلمی الکو وايي، چې د دغو پروژو په پلي کېدو سره د بڼوالو او بزگرانو انگور او پیاز په ښه ډول مدیریت کېږي او په مناسب وخت کې د پلور لپاره چمتو کیږي.

د هغه په خبره چې د دغو پروژو ۹۰ سلنه لگښت د کرنې وزارت له خوا او ۱۰ سلنه نور یې د بڼوالو او بزگرانو له خوا ورکول کیږي.

### وزارت تجارت: پاکستان هنوز هم بنادر تورخم و سپین بولدک را به‌روی صادرات افغانستان باز نکرده است



وزارت صنعت و تجارت افغانستان می گوید، پاکستان علی‌رغم تعهدات‌اش، هنوز هم بنادر تورخم و سپین بولدک را به‌روی صادرات افغانستان باز نکرده است.

به گفتهٔ جواد دبیر، رئیس روابط عامهٔ این وزارت، این بنادر زمانی مسدود اند که میوهٔ تازه و سایر محصولات زراعتی در افغانستان برداشته می‌شود.

جواد دبیر، به رادیو آزادی گفته است که آنها دو روز پیش (شنبه ۱۷ جوزا) در یک نشست مشترک با تجار میوهٔ تازه تصمیم گرفتند تا برای باز شدن این بنادر از طریق دیپلوماتیک تلاش کنند.

آقای دبیر گفت: «متأسفانه با رسیدن محصولات زراعتی افغانستان بطورخاص پخته شدن میوه‌های تازه، بنادر پاکستان بروی صادرات باز نیست، باید این بنادر باز شوند. تصمیم گرفته شد که باید مراجع دیپلوماتیک و بخش خصوصی این موضوع را تعقیب کنند تا بنادر تورخم و سپین بولدک بروی صادرات باز شوند.»

این در حالیست که با گسترش همه‌گیری ویروس کرونا، حکومت پاکستان رفت و آمد با افغانستان را قطع کرد. اما وزارت تجارت افغانستان می گوید، مقامات پاکستان قول داده بودند که بعد از عید سعید فطر، این بنادر تجارتی را بروی صادرات افغانستان باز خواهند کرد، که تااکنون این کار نشده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### کابینه به کله تکمیلېږي؟

د اشرف غني د لوري له مراسمو درې میاشتې تېرېږي، خو لا یې هم نه کابینه شته او نه یې هم د هغو ژمنو د عملي کولو لپاره څه کړي چې له خلکو سره یې کړې وې. ښایي حکومت د دې لامل له ډاکټر عبدالله سره ټاکنیزې لانجې یادې کړي، خو له عبدالله سره له هوکړې هم کافي وخت تېر شوی، خو بیا هم نوماند وزیران د رایې اخیستو لپاره ولسي جرګې ته نه دي ور پېژندل شوي. یوازې څو وزارتونو ته نوي سرپرستان او کاندید وزیران ور پېژندل شوي دي، خو لویه برخه کابینه همغسې پاتې ده.

موږ پوهېږو چې اوس به بیا عبدالله او اشرف غني په وزیرانو نه سره جوړېږي او لانجې به یې وي. د دې تر څنګ به د ولسمشر او د هغه د مرستیالانو او سیاسي شریکانو ترمنځ هم پر وزیرانو لانجې وي. له بله اړخه به ډاکټر عبدالله له خپلو شریکانو سره د ورکړل شوي واک او څوکیو د وېش په لانجه کې وي. په دې ډول به دا دوره هم نیمایي کابینه سرپرسته او له لانجو سره مخ وي. تر اوسه پورې چې څو وزارتونو ته سرپرستان او کاندیدان هم ټاکل شوي، له بده مرغه ښکاري چې راتلونکې کابینه او لویې څوکۍ به بیا هم د وړتیا پر ځای تر ډېره د سیاسي مصلحتونو پر اساس وېشل کېږي.

له یوه اړخه حکومتي مشران په سیاسي معاملو بوخت دي، حکومت او حکومتولي یې مسخره کړې، له بله اړخه ولسي جرګې ته هم داسې وکیلان راغلي چې خپله دنده ترې هېره ده او پر خپلو سوداګریو، معاملو او کیسو بوخت دي. په دوی کې ځینې یې کله کله له حکومت څخه د کاندید وزیرانو د ور پېژندنې غوښتنه وکړي، خو اکثریت یې غلي دي او داسې حالت یې غوره کړی، لکه دا چې د دوی دنده نه وي او یا هم د حکومت یو داسې اداره وي چې هر څه ارګ کوي، دوی یې باید ومني او پرې غلي شي.

د بې کفایته، معاملګرې، د ولس له دردونو او ستونزو د ناخبره ولسي جرګې موجودیت د دې سبب شوی چې حکومت لا زیات په دې برخه کې بې توپیره شي او همداسې په ناقانونه ډول واک ووېشي او اکثریت وزارتونه د سرپرستانو په وسیله رهبري کړي. که ولسي جرګه مسوولانه عمل وکړي، د حکومت چلند به بدل شي، کابینه به ژر تکمیل شي، د ناوړه وزیرانو مخه به ونیول شي او وړ کسان به راوړل شي، خو که ولسي جرګه همداسې وي، نو کیسه لا خرابېږي.

حکومتي مشرانو ته پکار ده چې نور پر دې ولس رحم وکړي. کله یې چې واک په ناقانونه ډول ووېشه، اوس باید دواړه اړخونه ژر له خپله اړخه وړ، مسلکي، په کارپوه، ژمن او صادق خلک معرفي کړي چې له ولسي جرګې د باور رایه واخلي. دوی ته پکار ده چې په دې چاره کې بېړه وکړي، ځکه اوسنی حالت او د سرپرستانو له خوا د وزراتونو رهبري نه یوازې د حکومت پر کړنو ناوړه اغېز کړی، بلکې فساد او ګډوډۍ یې هم زیاتې کړي دي او اصلي زیان یې ولس ته رسېږي.



## خلکو ته لومړیتوب ورکول په چین کې د وبا پر وړاندې مبارزه کې تر ټولو مهمه تجربه وه

لیکواله: ډېوه
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله




د چین حکومت د جون په اوومه تر «د کووېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د چین مبارزه» سرلیک لاندې سپین کتاب خپور کړ. په دغه سپین کتاب کې د مشخص مهالوېش، بشپړو شمېرنو او په زړه پورې پېښو له لارې د دې وبا پر وړاندې مبارزه کې د چینایانو هلې ځلې ریکارډ شوې، د دغې وبا د وقایې او کنټرول او د ناروغانو د درملنې په چارو کې د اغېزمنو کارونو یادونه شوې او د یووالي او همکارۍ قوې او دغه وبا ته د ماتې ورکولو باور خپور شوی دی.

په دغه ۳۷ زره کلیمو لرونکي سپین کتاب کې تر ټولو خلکو ته د لومړیتوب ورکولو نظریه باندې ټینګار شوی او وړاندې شوې او په هره بیه د خلکو ژوند ژغورلو جملې څو څو ځلې یادې شوې دي. په چین کې په یوازې دریو میاشتو کې د دغې وبا پر وړاندې مبارزه کې کارنامې د چین ډېره مهمه تجربه ده.

په دغه سپین کتاب کې د ۲۰۱۹ ز کال د ډسمبر په ۲۷مه د نامعلومې سږي ناروغۍ د راپور ورکولو څخه د ۲۰۲۰ ز کال د چین د ملي ولسي کانګرېس او د ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د کلنیو غونډو تر پای ته رسېدو پورې په موده کې په پنځو پړاوونو کې د وبا د وقایې او کنټرول په بهیر کې کارونه ریکارډ شوي دي. په دغه سپین کتاب کې د څو کلیدي وختونو د حقایقو له لارې د لومړي ځل لپاره په بشپړه او سیستماتیکه توګه د دې وبا د مخنیوي په چارو کې د چینایانو د زحمتونونو بهیر لیکل شوی دی. په دې توګه نړیواله ټولنه به په دې وپوهېږي چې په چین کې د وبا پر وړاندې مبارزه کې د مهمو ستراتېژیکو لاسته راوړنو لپاره ډېرو مشکلاتو شتون درلود، چین تر ټولو هر اړخیزه او جدي تدبیرونه عملي کړي او په ټول بهیر کې یې شفاف او مسوولانه کارونه ترسره کړي دي.

د یو میلیارد او ۴۰۰ میلیونو نفوس لرونکي لوی هېواد په توګه چین څنګه وکولای شول چې په لنډ وخت کې د وبا د خپریدو مخه ونیسي؟ په سپین کتاب کې دې ته اشاره شوې چې اصلي لامل د چین د کمونېست ګوند ټینګه لارښوونه ده. د وبا له رامنځته کېدو راهیسې د چین دولت رییس شي جین پینګ تل د خلکو ژوند او روغتیا ته لومړیتوب ورکړی او ورکوي یې او په خپله یې د کارونو لارښوونه او ترتیبات ترسره کړي چې د ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره یې سمدسي د هوبې ولایت او ووهان ښار د قرنطین کېدلو پرېکړه وکړه. هغه څوارلس ځلې د مرکزي حکومت د سیاسي بیورو د دایمي کمېټې غونډې او یو لړ مهمو غونډو مشري کړې ده او په خپله یې له ووهان ښار څخه لیدنه وکړه.

مهم بحران د یو هېواد د واکمن ګوند د واکمنې نظریې او توان ازموینه کولی شي. له وبا وروسته چینایان په ژوره توګه پر دې پوهېدلي چې د چین د کمونېست ګوند لارښوونه د باد او باران پر وړاندې تر ټولو مهم او باوري ضمانت برابرولی شي او دا د خلکو په ژوند کې تر ټولو ډېر مهم دي. په دغه سپین کتاب کې لیکل شوي چې چین په هره بیه د هر یو ناروغ ژوند ژغورلی چې نوې زېږېدلي ماشومان او څه دپاسه د سل کلنو عمر لرونکو ټول تر ښې درملنې وروسته روغ شوي دي. د سختو ناروغانو د درملنې لپاره ډېر پرمختللي طبي ماشینونه او ډاکټران سمدستي راغونډ شوي چې د مې تر ۳۱مې پورې د چین په دننه کې پر کووېډ-۱۹ د اخته کسانو د بیا رغېدو اندول ۹۴.۳ سلنې ته رسېدلی دی.

په دغه سپین کتاب کې په مشخصه توګه د وبا د وقایې او کنټرول په جدي سیستم کې د ټولو خلکو د ګډون حالت یادونه شوې چې د بحران پر وړاندې ټولو چینایانو پر خپل کمونېست ګوند او حکومت ټینګ باور درلود او پر دې ګډې نظریې اتفاق لري چې د ځان ساتنه د نورو ساتنه او د هېواد لپاره خدمت کول دي. له دې څخه د چیني ملت د یووالي او یو له بل سره د مرستې په اړه دودیز کلتور او ترې د وطنپالنې احساسات څرګندېږي. په دې مبارزه کې هر تن ستر اتل او عسکر دی.

د خلکو لپاره د خلکو په اتکا اصول په چین کې له وبا وروسته د کارونو د بیا اعاده کولو په ترڅ کې هم استفاده کېږي. په سپین کتاب په دریو برخو کې په دې اړه لیکل شوي چې د ثابتې او منظمې ټولنې ساتنه کېږي، په منظم ډول د کارونو د بیا عادي کولو هڅونه کېږي او د خلکو ژوند ګام په ګام احیا او عادي کېږي. د اپرېل تر پای پورې په چین کې د لویې پیمانې صنعتي چارو تصدیو د کارونو بیا پیل اندول له ۹۹ سلنې څخه اوښتی و، د منځنیو او کوچنیو تصدیو د کارونو بیا پیل اندول ۸۸.۴ رسېدلی او د مهمو پروژو د کارونو بیا پیل اندول له ۹۵سلنې څخه اوښتی و. د چین اقتصاد په چټکۍ د عادي کېدو په حال کې دی او له دې څخه څرګندېږي چې د وبا د وقایې او کنټرول په بهیر کې د چین ټاکنه علمي، عملي او سمه ده.

## راپورونه: اوپېک سازمان او متحدینو یې د تېلو د تولید بې ساری کمښت یوه میاشت نور هم تمدید کړ




د نړۍ د تېلو د سترو تولیدونکو هېوادونو سازمان ( اوپېک) او متحدینو یې د تېلو په تولید کې بې ساری کمښت یوه میاشت نور هم تمدید کړ.

دغه سازمان په تېره اپرېل میاشت کې موافقه وکړه چې د دوو میاشتو په مخه به هره ورځ نږدې لس میلیونه بېرله کم تېل تولیدوي، خو د ریکارډ د کچې دغه کمښت یوه میاشت نور هم وغځېد.

اوپېک او متحدو هېوادونو یې چې د (اوپېک پلس) په نوم یادېږي، پرېکړه وکړه چې د یوې بلې میاشتې لپاره به هم د تېلو تولید په بې ساري ډول ټیټ ساتي. د تېلو د تولید له دې کموالي موخه دا ده چې د کرونا له کبله د تېلو ځپل شوي مارکېټونه بېرته یو څه په پښو و دروي.

اوپېک پلس سازمان چې مشري یې سعودي عربستان کوي او د روسیې په ګډون د تېلو ۱۳ تولیدوونکي هېوادونه یې غړیتوب لري، ویلي چې د جولای میاشتې تر وروستیو به د ورځې د تېلو تولید کچه ۹.٦ میلیونه بېرله کمه ساتي.

د دغه سازمان په تېره هوکړه کې د تولید دا بې ساري ټیټه کچه یوازې مې او جون میاشتو ته پلان شوې وه.

په تېره هوکړه کې چې په اپرېل میاشت کې وشوه، راغلي چې اوپېک سازمان به د ۲۰۲۱ ز کال تر لومړۍ ربعې د تېلو تولید کم ساتي او بیا وروسته به د وضعیت ارزونې ته په کتو پرېکړه کوي. د اوپېک سازمان د تولید د کموالي پرېکړې د تېلو بازارونه بېرته یو څه با ثباته کړي او اوس په نړیوال بازار کې د هر بېرل تېلو په بیه کې ۴۰ ډالره زیاتوالی راغلی دی.

د سعودي د تېلو وزیر عبدالعزیز بن سلمان ویلي، په تېره اپرېل میاشت کې د تېلو ټیټې بیې ټکان ورکړی و، خو د ده په خبره، د ټولو تولیدوونکو هېوادونو د قربانۍ په پایله کې اوس د تېلو بازارونه یو څه باثباته شول. هغه ویلي، داسې نښې شته چې ښیي د دوی بدې ورځې پای ته رسېدلې دي.

دغه راز د روسیې د انرژۍ وزیر الکساندر نوواک هم ورته څرګندونې کړې او تېره اپرېل میاشت یې د تېلو په تولید کې د تاریخ بده میاشت یاده کړې ده. په تېره اپرېل میاشت کې چې کله د تېلو تولیدوونکو د تولید د کموالي پرېکړه کوله، مکسیکو ورسره همغږې نه وه.

سعودي غوښتل چې مکسیکو په ورځ کې درې نیم لکه بېرله تولید کم کړي، خو مکسیکو یوازې د یو لک بېرلو کم تولید غوښتنه درلوده. هغه مهال د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ منځګړیتوب وکړ او خپله یې د تولید یو څه کموالی پر غاړه واخیست. امریکا هم د اوپېک سازمان له دې پرېکړې هرکلی کړی چې یوه میاشت نور به هم د تېلو تولید په بې ساري ډول کم ساتي.

## عامې روغتیا وزارت: کرونا ویروس افغانستان له لوی روغتیایي ناورین سره مخ کړی دی

عامې روغتیا وزارت وایي، کرونا ویروس دا مهال هېواد له روغتیایي بحران سره مخ کړی او خلک باید د دغه ویروس په مهارولو کې خپل ګټور رول ادا کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې په کرونا د اخته شویو کسانو رسمي شمېر له ۲۰ زرو واوښت، خو اندېښنې دا دي چې ممکن یوازې په کابل ښار کې تر یو میلیون پورې کسان پر دې ناروغۍ اخته وي.

عامې روغتیا وزارت وایي، کرونا ناروغۍ درملنه نه لري او له خلکو غواړي چې په خپلو تدبیرونو او روغتیایي سپارښتنو سره یې مخه ونیسي.

د دغه وزارت مرستیال وحیدالله مجروح تېره ورځ خبریالانو ته وویل، دغه ویروس په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې دی او د خلکو له همکارۍ پرته یې مخنیوی امکان نه لري.

په همدې حال کې د اسلامي طبي ټولنې غړي او افغان جاپان روغتون کې ډاکټر محبوب الله شفیق وایي چې په روغتونونو کې نور د ناروغانو ځای نه کېږي.

نوموړي ازادي راډیو ته د خبرو پرمهال له خلکو غوښتي چې نور د کرونا ویروس پر وړاندې بې پروا پاتې نه شي.

هغه زیاته کړې: «ناروغانو ته د روغتون په دهلیز کې هم ځای نه پاتې کېږي، موږ وینو چې ناروغان خراب حالت کې راځي، خو مونږ ورته ځای نه لرو، دا د خلکو د بې احتیاطۍ نتیجه ده».

په ورته وخت کې د کرونا رسمي پېښې که څه هم څه باندې شل زره ښودل شوي، خو غیر رسمي شمېرې یې بیا ټکان ورکوونکې دي.

د شنبې په ورځ د کابل والي یعقوب حیدري وویل، د دوی شمېرې ښیي چې یوازې په همدغه ښار کې شاوخوا یو میلیون کسان پر کرونا اخته شوي دي.

د کابل والي ونه ویل چې دغه شمېرې یې له کومې لارې موندلې، خو څه چې ښکاره دي، هغه دا ده چې نږدې هر کور کې یو یا څو کسان د دغې ناروغۍ نښې نښانې لري.

# د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

ژباړه: حمید محمدشاه

**دویمه برخه:**

**تور مرګ او د اروپایي عقلانیت زیږېدل**

په ۱۳۴۸ ز کال کې انسانیت له سترې غمیزې سره مخ شو، چې د تور مرګ(Black Death) په نوم یادېږي، په منځنۍ اسیا او چین کې یې ډېر خلک ووژل، د چین ۴۰٪ استوګن یې ووژل، هغه مهال د وبا د قربانیانو شمېر ۹۰٪ ته رسېدلې و، څوک به چې پر وبا اخته شول، یوه یا دوه ورځې به ژوندي وو، له منځنۍ اسیا څخه اروپا ته په پنځلس کلونو کې رسېدلې وه او هغه مهال لارې اوړدې او سوداګري کمه وه.

د اتمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې د مسلمانو تاریخپوهانو په ادبیاتو کې دا وبا د ( عامې وبا) په نوم مشهوره ده، د هغو مسلمانو تاریخپوهانو، چې په شام او مصر کې یې ژوند کاوه، د همدې وبا په اړه ډاروونکې خبرونه شته. ابن الوردي چې په مصر کې یې ژوند کاوه، د هغې ناروغۍ په اړه کتاب لیکلی چې دی پرې اخته و، چې وروسته بیا له همدې ناروغۍ ومړ. نوموړی لیکي: «یوزاې په قاهره کې د ورځې له ۲۰ زرو زیات انسانان مړه شوي وو، څوک نه وو چې مړي ښخ کړي، د مړو ښخول سخت کار و، ډېری به له دې ډاره تښتېدل چې وبا یې ونه نیسي».

هغه مهال د ګردې نړۍ د وګړو شمېر ۴۷۵ میلیونه و، چې همدې وبا په ۱۳۴۸ ز کال کې ۱۰۰ میلیونه انسانان، چې د نړۍ د ټول نفوس دربیمه برخه یې جوړوله، وژلي وو. همدې وبا په دریو میاشتو کې د نړۍ ۲۰٪ انسانانو ژوند اخیستی و. د څېړونکو له انده، وبا همداسې خپرېده چې د اوږدو کلونو لپاره یې خلک وژل او ان شمېر یې ۲۰۰ میلیونو ته ورسېد.

لکه څرنګه چې جستنیان وبا بیزنطیني دولت له پښو وغورځاوه او اسلامي هغه راوزېږېده، همدا راز سترې یا تورې وبا په اروپا کې منځنۍ پېړۍ پای ته ورسوله او د پرمختګ د عصر پیلامه شوه. د دې ډېر لاملونه دي؛ کله چې دا وبا رامنځته شوه، ډېری قربانیان یې بېوزله او غریب انسانان وو.

په ځوارلسمه پېړۍ کې په اروپا کې فیوډالېزم خپل اوج ته رسېدلی و او اقتصادي سیستم پر همدې فیوډالېزم ولاړ و، پانګوالو پراخې ځمکې را لاندې کړې وې او بېوزلو پکې د مریبانو په څېر کار کاوه. له وبا وروسته پانګوالو دومره څوک نه شو پیدا کولای چې د دوی په ځمکو کې کار وکړي؛ ځکه ډېری بزګرانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و، شمېر یې ډېر کم و، کاریګرو به ډېر مزد او ډېره ازادي غوښته، وروسته بیا په ټوله اروپا کې د مریبتوب او فیوډالېزم د ختمولو خبره راپورته شوه.

پانګوالو هڅه وکړه، چې بېرته واک او کنټرول تر لاسه کړي، خو بېوزلو بزګرانو بیا وخت ورنه کړ؛ ځکه تاریخپوهان وایي، همدې تورې وبا فیوډالېزم له منځه یووړ او اغېز یې تر دین ورسېد، کلیسا چې سیاست او دیني چارې په لاس کې نیولې وې، واک او صلاحیت یې کاواکه شو، د تورې وبا پر وړاندې ناتوانه او عاجزه ولاړه وه.

ځوارلسمه پېړۍ په نړیواله کچه له طلایي پېریو څخه شمېرل کېږي. اسلامي نړۍ په طلایي پېر او عصر کې ژوند کاوه، نړۍ پر دې باور وه چې مسلمانان په علم، روغتیا، فلک، هندسه، انساني تمدن او د ژوند په مختلفو برخو کې ډېر پرمختللي دي.

اروپایانو په اندلس کې هغه څه لیدل، چې دوی په خپلو پوهنتونو، کلیساوو او فرهنګیانو کې نه لیدل. اندلس هغه مهال د تمدن او پرمختګ اوج ته رسېدلی و او اروپا خپلې سختې او تیاره شپې تیرولې، ټول پوهېږو چې د اروپا نخبه ګانو او مذهبي چارواکو به د طب په برخه کې له مسلمانو ډاکترانو مرسته غوښته، هغه مهال په اروپا کې طب ګوډې او جاودو و.

سترې وباوې د دین او ژوند په اړه بنسټیزې پوښتنې راپورته کوي، انسان باید څه وکړي، چې له دې پړاوه تېر شي؟

کلیسا به ویل وبا د الله پاک له لوري یو عذاب دی چې د خلکو د ګناهونو له کبله پر دوی نازله شوې ده، خو په دې کې پاتې راغله چې د دغه عذاب د لرې کولو لپاره حللار وړاندې کړي.

دا مهال نو خلکو نورو لارو چارو ته مخه کړه او هڅه یې کوله چې د ستونزې حقیقت معلوم کړي، چې وروسته بیا خبره د اروپایي عقلانیت تر بریده ورسېده، چې پیل یې له اندلسه وشو او په شپاړلسمه او اووه لسمه پېړۍ کې ټوله اروپا د پرمختګ او علم له کاروان سره یو ځای شوه.

تاریخپوهان وایي چې همدا ستره وبا د اروپایي نهضت او پرمختګ پیلامه شوه، فیوډالېزم له منځه ولاړ، د اروپایي عقلانیت پړاو پیل شو چې وروسته بیا د نهضت پړاو ته ورسېد، پر عام ژوند په ځانګړې توګه په سیاست او علم د کلیسا اغېز او واک محدود شو.

د تورې وبا له راڅرګندېدو راهیسې او له دې وړاندې د انسانانو دومره مړینه نه وه ثبت شوې، لکه په توره وبا کې چې ثبت شوې ده. بشریت دوې پېړۍ انتظار وویست چې د دې وبا د قربانیانو ځای ډک کړي.

**د بریا مزه او د والګي ډار!**

څلورمه وبا اسپانوي والګی دی چې د ۱۹۱۸- ۱۹۲۰ ز کلونو ترمنځ له لومړۍ نړیوالې جګړې را وروسته د HINI ویروس له کبله رامنځته شوې ده. پر هسپانوي د دې لپاره مشهوره نه ده چې په هسپانیه کې رامنځته شوې، بلکې هغو کسانو چې په دې اړه خبرې او معلومات وړاندې کول، هغوی هسپانویان وو.

هغه مهال په هسپانیه کې ورځپاڼو یو څه ازادي درلوده او نوره نړۍ د لومړۍ نړیوالې جګړې له کبله سرګردانه وه، د مرګ او مړینې خبرونه یې دومره نه ځارل؛ ځکه تازه دا جګړه پای ته رسېدلې وه او د وبا د خپرېدو لامل هغه سرتېري وو چې د اروپا په مختلفو برخو کې یې جګړې کړې وې او وروسته بیا خپلو کورونو ته راستانه شوي وو. دوی د بریا له خبرونو سره یوازې دا وژونکی ویروس هم خپلو سیمو ته ولېږداوه، چې د خلکو ترمنځ یې ډار خپور کړ.

هغه مهال ډېرو مړو او سختې بېوزلۍ د والګي کچه لوړه کړې وه. نږدې ۵۰۰ میلیونه انسانان پر وبا اخته شوي وو، د نړۍ په مختلفو برخو کې له ۷۰۰ – ۱۰۰ میلیونه انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و، د دې وبا اغېز له تورې هغې له ۲۰-۳۰٪ کم و؛ ځکه د نړۍ نفوس یو میلیار او ۹۰۰ میلیونه اټکل شوی و.

همدا ویروس د موسمي والګي په بڼه د یوه موجود په توګه پاتې شو چې په ۲۰۰۹ ز کال کې د خنزیرانو د والګي په بڼه بیا را ژوندی شو، دا وباوې نه مري، بلکې د اوږده وخت په تېرېدو ځینې مهال کلونو ته رسیږي، بېرته را ژوندۍ کېږي، خو اوس انسانیت هم ډېر پرمختګ کړی. ویروس ضد درمل او واکسین یې تولید کړی، چې د خپل بدن مقاومت پرې پیاوړی کړي. انسانان اوس کولای شي چې د واکسین او یا طبیعي مقاومت له لارې تر هغې له ویروس سره مقابله وکړي، چې ویروس بیا راڅرګند شي او نوې بڼه یې غوره کړې وي.

**پرمختللي ویروسونه، پرمختللې نړۍ ګواښي!**

موږ اوسمهال پرمختللې نړۍ او ژوند لرو، کرونا یا کووېډ- ۱۹ د ویروس لومړنی نسل نه دی، دا د همدې کورنۍ ( کرونایي ویروس) شپږم نسل دی، د هغو پخوانیو وباوو په نسبت په دې کې د انسان د مړینې کچه ډېره ټېټه ده؛ ځکه د انسان د روغتیا او معافیت واک له پخوا څخه څو ځلې زیات شوی دی، لکه پاکوالی، د درملو پرمختګ، د خوړو او مقاومت زیاتوالی، ډېری سترې وباوې وروسته له هغې رامنځته شوې، چې انسان لوږې او خوارځواکۍ ښه ځپلی او کمزوری کړی دی. نن ورځ په نړۍ کې روغتیایي وضعیت له پخوا ډېر ښه دی، خو ویروسونه هم پرمختللي شوي او کولای شي چې پر نوې بڼه ځانونه راڅرګند کړي.

**دا واقعیت څه مانا؟ د راتلونکي لپاره احتمالي سناریو؟**

مختلفې څېړنې وړاندوینه کوي چې سمدلاسه داسې حللار نشته چې د ویروس د خپرېدو مخه ونیسي، اوس ګرده نړۍ په ټپه ولاړه ده، حکومتونه به هم ډېر ژر په ټپه ودرېږي؛ ځکه دا ناروغي ډېره ژر انتقالیږي، ځکه خو نړۍ ته په کار ده چې خپلې دروازې وتړي. ټوله نړۍ به ډېر ژر او په یوه وخت کې د جمود پړاو ته ننوځي، پخوا داسې بېلګې ډېرې کمې لیدل شوې دي.

په مختلفو تاریخي پړاوونو کې داسې نه دي شوي چې مسجدونه دې وتړل شي، لکه نن ورځ چې په مختلفو هېوادونو کې دا کار وشو. دا اواز چې (په کور کې لمونځ وکړئ) دومره چا نه و اورېدلی، یوازې مو د سیرت په کتابونو کې لوستي وو چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپلو پلویانو د اسانۍ لپاره یوازې د سخت باران پر مهال اجازه ورکوله چې په کور کې لمونځ وشي، د یوې اونۍ په ترځ کې د نړۍ ډېری مسجدونه وتړل شول.

**تر نامعلومې خبرتیا پورې فردي ازادي وځنډېده!**

نن چې څه ګورو، پخوا یې چا اټکل هم نه کاوه چې یوه ورځ به داسې راځي چې مسجدونه، کلیساوې، عبادتځایونه به تړل شوي وي، خلک به په خپلو کورونو کې ناست وي، سوداګریز مرکزونه، سرحدونه او هوایي ډګرونه به بند وي، دا د انسانانو لپاره نا اشنا خبره ده؛ ځکه د سفر او ګرځېدا ازادي د معاصر انسان له سترو ازادیو څخه ګڼل کېږي، چې هر وخت یې زړه وشي، دا کار کولای شي. دا د انسان له مهمو حقوقو څخه شمېرل کېږي.

تر دې چې انسان داسې انګېرله چې هر څه د ده په کنټرول او لاس کې دي او دا یې له وسه پوره ده، چې نږدې هوایي ډګر ته ولاړ شي او د خپلې خوښې ځای ته وخوځېږي، ویروس راپیدا شو او هېچا ته اجازه نه ورکوي چې له کوره ووځي ان تردې، چې په خپل کور کې له نورو سره له ډېرې ناستې پاستې ډډه وکړي.

دا هر څه نوي دي، پخوا چا پېژندل هم نه او نه یې چا اټکل کړی و، موږ نه پوهېږو چې دا به کله ختمېږي، دا بیا له ګواښه ډکه خبره ده چې ویروس به دوو یا دریو اونیو کې له منځه ولاړ شي، هر څوک چې دا خبره کوي، هغه تېروتی دی.

ځینې څېړنې ډېرې خوش باوره ښکاري او وایي چې د روانې میاشتې تر پایه به ویروس له منځه ولاړ شي، خو موږ له دې زیات وخت ته اړتیا لرو، ځینې نور بیا وایي، موږ له شپاړلسو تر اتلسو میاشتو پورې وخت ته اړتیا لرو، چې دا ویروس کنټرول کړو.

نن چې له څه سره لاس او ګرېوان یو، ډېر وخت ته اړتیا لري. کېدای شي وضعیت یو څه بدلون ومومي، خلکو ته په مشروطه بڼه اجازه ورکړل شي چې حرکت وکړي، خو په دې کې شک نشته چې د ویروس کنټرول او له منځه وړل یا له خطرناک پړاو څخه عادي هغه ته راګرځول، ډېر وخت ته اړتیا لري او کېدای شي دوه کاله وخت ونیسي.

**دوام لري...**

# ناورین او د فساد وېره؛

## د ولسي جرګې پرخلاف، مشرانو جرګې د پور اخیستلو سند تایید کړ



مشرانو جرګې د افغان حکومت هغه غوښتنه تایید کړه چې له مخې به یې د پیسو له نړیوال صندوق له کرونا سره د مبارزې په موخه پور اخیستل کېږي. دغه غوښتنه ولسي جرګې رد کړې وه او تور یې پور کړی و چې له کرونا سره د مبارزې لپاره په ځانګړو شوو پیسو کې فساد موجود دی، نو ځکه دغه طرحه ردوي، خو مشرانو جرګې د تېرې ورځې په غونډه کې دغه پرېکړه تاییده کړه او په خبره یې حکومت دغو پیسو ته اړتیا لري. بلخوا په ټولنیزو رسنیو کې پر دې مسئله سخت غبرګونونه پارېدلي دي. کاروونکي وایي، مشرانو جرګه د حکومت په اشاره پرېکړې کوي او سره له دې چې له موجود فساد خبر دي، خو بیا یې هم د پور اخیستو ته د تایید رایه ورکړې ده.

د کرونا ویروس له پراختیا سره هممهاله د پیسو نړیوال صندوق اعلان وکړ چې له اړمنو هېوادونو سره به د کرونا پر وړاندې د مبارزې په موخه مرسته کوي او دوی ته به پوررونه ورکوي. افغان حکومت په همغه لومړیو ورځو کې د دغه پور د اخیستلو لپاره متې ونغاړلې او دغه غوښتنه یې د تایید لپاره ولسي جرګې ته واستوله. ولسي جرګې پر دغه غوښتنه او طرحه تر بحث وروسته وویل چې په حکومت کې د شته فساد، بې پلانۍ او ځینو نورو ستونزو له امله دغه طرحې ته د تایید رایه نه ورکوي.

د مالیې وزارت هغه مهال یوه طرحه ولسي جرګې ته سپارلې وه چې له مخې یې افغان حکومت د پیسو له نړیوال صندوق ۲۲۹ میلیونه ډالر پور اخیست. سره له دې چې حکومت له کرونا سره د مبارزې لپاره د څه باندې ۱،۱ میلیارد ډالرو د ځانګړې کولو خبره کوي، خو د دومره نور پور اخیستل د پوښتنې وړ مسئله ده. د ولسي جرګې یوه غړې زلمي نوري هغه مهال ویلي وو، چې حکومت د یادو پیسو د لګولو لپاره عملي تګلاره او پلان نه لري، نو د فساد احتمال شته دی. د ده په خبره: ((د ۲۲۹ میلیونه ډالرو د پور کولو سند رد شو، ځکه استازو ټینګار کاوه چې حکومت یې دې د لګولو لپاره طرحه او پلان راوړي، خو حکومت داسې کوم شفاف پلان او طرحه استازو ته وړاندې نه کړه)).

د مشرانو جرګې د تېرې ورځې په غونډه کې بیا پرېکړه شوې ده چې حکومت به له کرونا سره د مبارزې لپاره د پیسو له نړیوال صندوق ۱۷ میلیارده افغانۍ پور اخلي. د مشرانو جرګې ځینو غړو ویلي چې حکومت دغو پیسو ته اړتیا لري او اړ دی چې د کرونا له امله رامنځته شوی بحران مدیریت کړي. بلخوا د مشرانو جرګې له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې یو شمېر سناتوران له دغه پرېکړې سره مخالف وو او په خبره یې ښایي د فساد له امله دغه پیسې شخصي جیبونو ته لاړې شي.

هغه مهال چې ولسي جرګې د پور اخیستنې دغه سند رد کړ، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو. ټولو دا یو غوره اقدام وباله او په خبره یې، په دې توګه د مفسدینو لاسونه لنډ شول، خو مشرانو جرګې دغه سند تایید کړ چې د خلکو له توند غبرګون سره مخ شوی دی. د ټولنیزو رسنیو کاروونکي وایي چې په مشرانو جرګه کې ډېری سناتوران د ولسمشر له لوري انتصاب شوي، نو ځکه ډېر وخت د حکومت پرېکړې تاییدوي او د ولسي جرګې د پرېکړو رد ته ناست وي. دوی وایي چې په داسې حساسو شرایطو کې چې په ښکاره توګه د کرونا پر وړاندې د روانې مبارزې په مالي منابعو کې فساد روان دی، دغه ډول پرېکړې د هېواد په زیان دي.

مشرانو جرګې داسې مهال دغه پرېکړه کړې چې همدا وړمه ورځ هم د دغه جرګې د شکایاتو کمېسیون ته له کرونا سره د مبارزې په بودیجه کې فساد ګڼ شکایتونه شوي وو. دوی ویلي وو چې څلور نیم کلیو غنمو نیولې بیا د وچې ډوډۍ تر وېش پورې په هر څه کې فساد روان دی او حق حقدار ته نه رسېږي. سره له دې چې له کرونا سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره مالي مرستې وشوې، خو حکومت تر دې دمه له روغتیایي بنسټونو، ناروغانو، قربانیانو او د قربانیانو له کورنیو سره د پام وړ او اړینې مرستې نه دي کړې.


## د کتــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايۍ
### اووم څپرکی




زه باید څو دقیقې وروسته هوایي ډګر ته تللی وای. خو د شبکه يي بازارموندنې په اړه مو راتلونکې څو میاشتې خبرې سره وکړې او څومره مجلسونه چې مې ورسره کول، هومره مې دې تجارت ته توجه زیاتېده.

په ( ۱۹۹۴م) کې مې د دې کاروبار په اړه جدي څېړنه پیل کړه. د دې کاروبار په اړه به چې له کوم مجلس څخه خبرېدم، ټولو ته تلم او ښه په ځير مې غوږ ورته نیوه. هغه کاروبارونه څېړم چې پانګونه پکې کوم، همداسې مې پرلپسې شرکتونه مطالعه کړل سوانح مې وکتلې او له نژدې مې وڅېړل. ان له ځینو سره یو ځای شوم چې کارونه یې له نژدې وګورم او له دننه یې تجربه کړم.

په لومړي ځل چې په ( ۱۹۷۵م) کې د دې شرکتونو په اړه تېروتی وم او فکر مې تړلی و. اوس مې شل کاله وروسته نظر کاملاً بدل شوی دی.

خلک له ما پوښتنه کوي:«ته ولې خلکو ته شبکه يي بازارموندنه د پیسو ګټلو د وسیلې په توګه ورپېژنې، په داسې حال کې چې ته خپله د شبکه يي بازار موندنې په مرسته نه يې شتمن شوی؟»

رښتیا هم، ما خپله شتمني د دې کاروبار له لارې نه ده پیدا کړې. خو دا کاروبار له بهره په عیني او افقي شکل څېړلی شم. ما خپله شتمني او اقتصادي ازادي ترلاسه کړې ده، نو د یوه بهرني کس په توګه د دغه کاروبار ستاینه کوم.

که ما نن خپل کاروبار یو ځل بیا له صفره شروع کولای، نو د کاروبار د پخوانیو طریقو پر ځای به مې په شبکه يي بازارموندنې پیل کړی وای.

د بازار موندنې شبکه څه شی ده؟

مخکې مې وویل چې ما کله هم د شبکه يي بازار موندنې په کاروبار کې ونډه نه ده اخیستې؛ خو داسې څوک پېژنم چې ونډه یې پکې اخیستې. له هغه نه مې د دې لپاره پوښتنې وکړې چې د کتاب په دې برخه کې يې نظرونه راوړم.

جان فلمینګ زما له ملګرو څخه دی چې په لومړیو کې د ودانیو جوړولو مهندس و او د Mie van der Rohe لپاره يې کار کړی. دی د ودانیو جوړوونکی یا مهندس و، نو دې کار ته یې عملي نقشه جوړه کړه، په بله وینا دی هغه کس دی چې د یوې ودانۍ زیات وخت پاتې کېدو ته ارزښت ورکوي. په همدې خاطر په شبکه يي بازارموندنه کې د ده شتون ستایم.

جان د کتاب په دې پاڼو کې د خپلې شبکه يي بازارموندنې څلویښت کلنه تجربه درسره شریکوي. هغه د خپل شرکت مالک او رییس دی. په اجراییوي اړخ کې له مشهورو او بریالیو کمپنیو سره پنځلس کاله د رییس د مرستیال او د خرڅلاو، روزنې او پرمختګ د مرستیال په توګه پاتې شوی دی. هغه په فعاله توګه له بېلو کاروباري ډلو سره کار کړی. او په ( ۱۹۹۷م) کې يې له Direct Selling Education Foundation څخه جایزه اخیستې. جان اوس خپرندوی او د Direct Selling News مجلې چلوونکی دی.

رابرټ: جانه! هغه لوستونکو ته چې شبکه يي بازارموندنه او د هغې ارزښت نه پېژني معلومات ورکړئ.

جان: شبکه يي بازارموندنه له تېرې نیمې پېړۍ څخه بېل شکلونه لري. اصلي نظریه ډېره ساده او خورا ښه ده او وایي:«د دې پر ځای چې د تولیداتو او خدماتو د بازارموندنې لپاره بېلو مسلکي نمایندګیو او د بازارموندنې کانالونو ته زیاتې پیسې ورکړو، ولې داسې چا ته پیسې ورنه کړو چې هم پلور غواړي او هم يې نورو ته رسوي؟

دا هغه کار دی چې د شبکه يي بازارموندنې یو شرکت يې کوي. د پلور یوه برخه بېرته ټولو هغو خپلواکو نمایندګیو ته ورکوي چې د تولیداتو لېواله او ترټولو ښې پېرودونکې وي.

رابرټ: د موضوع د ښه روښانولو لپاره به څو شېبې مخالف واقع شم. دا څنګه کار کوي؟ زما مطلب دا دی یوه ډله خلک چې د بازارموندنې هېڅ مهارت نه لري، کولای شي په پلور کې سیالي وکړي او د پام وړ تولیدات وپلوري؟

جان: د دې کار ښکلا همدا ده. د بازارموندنې هر مسلکي، د هالیووډ تولیدوونکي او پیاوړي شرکتونه پر دې پوهېږي چې د تولید په اړه د خلکو لخوا یو بل ته معلومات ورکول د بازارموندنې تر ټولو ښه لاره ده.


په همدې خاطر په تلویزیوني اعلانونو کې داسې خلک ګوماري چې ستاسو د مور، پلار، میرمنې، خاوند، ښه ملګري یا ماشومانو په شان خبرې وکړي چې خلک نورو ته د دوی په څېر خبرتیا ورکړي.

په شبکه يي بازار موندنه کې له رښتینو کارونو څخه ګټه اخلو. رابرټه! اصلي قدرت هغه دی چې تا اشاره ورته وکړه. د یوه استازي په توګه نه یوازې په هغه پلور کې برخه اخلي چې تا پلورلي دي، بلکې د هغو خلکو په پلور کې هم په مستقیم یا نامستقیم ډول ونډه اخلي چې ستا له پېرودونکو څخه شیان اخلي.

**دوام لري...**

# د ننګرهار پېژندنه

حشمت الله نوري



ننګرهار ولایت د افغانستان له ختیځو سرحدي ولایتونو څخه دی چې په ختیځ کې له پښتونخوا، په شمال کې له کونړ او نورستان، په شمال لوېدیځ کې له لغمان، په لوېدیځ کې له کابل، لوګر او پکتیا او په سوېل کې بیا له خیبر پښتونخوا سره ګډه پوله لري. د اټکل له مخې، دا ولایت له کابل څخه وروسته د هېواد ګڼ مېشتی ولایت ګڼل کېږي، چې د وګړو شمېر يې له دری میلیونو هم پورته دی.

ننګرهار د افغانستان په ختیځ کې د ختیځ طول البلد د ۷۰ درجو او ۲۸ دقیقو او د شمالي عرض البلد د ۳۳ درجو او ٥٦ دقیقو تر منځ پروت دی، چې د سمندر له سطحې څخه يي لوړوالی ۵۹۹ متره او پراخوالی یې ۷۹۱٦ کیلومتره مربع دی او مرکز يې جلال اباد ښار دی.

ننګرهار ولایت، چې د تاریخي ځانګړنو، اوبو او هوا (اقلیم)، مېوو، حاصلاتو او طبیعي مناظرو له امله يې د هېوادوالو پاملرنه ځان ته را اړولې، د شمال له خوا څخه يې یو څه برخه د کونړونو او یو څه يې په لغمان ولایت پورې نښتې ده، د لوېدیځ له خوا په کابل او لوګر ولایتونو پورې تړلې او د سوېل(جنوب) خواته يې سپین غر له پکتیا او کوزې پښتونخوا څخه بېلوي.

د ننګرهار ولایت ختیځه او سوېل ختیځه خوا له ډیورنډ کرښې سره ګډه پوله لري. د ننګرهار د تودوخې منځنۍ کچه په اوړي کې تر ۴۵ سانتي ګرېډ درجو او په ژمي کې تر مثبت ۲ سانتي ګرېډ درجو پورې رسېږي، مدیترانه يي اقلیم لري، په ژمي کې يې د اورښت کچه تر ۲۴۲- ۳۹۰ ملي مترو پورې رسېږي.

له خوګیاڼو، حصارك، سپین غره او کشمونډ غرونو پرته په معمول ډول د ننګرهار په نورو سیمو کې واوره نه اوري، د نومړو سیمو هوا په دوبي کې معتدله او د نورو سیمو هوا معمولاً توده وي.

له ننګرهاره د غرونو لړۍ راتاو ده، شمال لور ته يې د هندوکش د غره هغه فرعي لړۍ چې د پردم له غاښي راپیلېږي او په ګمبیري دښتې پای ته رسېږي. په همدغو وروستیو برخو کې د کوز کونړ او کشمونډ د غره په نامه یادېږي. سوېل لور ته يې د سپین غره لړۍ، لوېدیځ لور ته يې د تور غره لړۍ او ختیځ لور ته يې د کامې، ګوشتې، لالپورې او له ډیورنډ فرضي کرښې ورهاخوا د مومندو په سیمه کې د هندوکش هغه فرعي لړۍ پرته ده، چې د ختیځ نورستان د دېوانه بابا په ختیځ کې د دورا له غاښي راپیلېږي او تر لواړګي پورې غځېږي.

سپین غر د ننګرهار تر ټولو مشهور اقتصادي غر دی، چې د ننګرهار په سوېل ختیځ کې پروت دی، د پېښور ښار د لوېدیځ له ۴۸ کیلومترۍ څخه پیل او مخ پر لوېدیځ د لوګر تر برید پولو رسېږي. سپین غر لوګر ولایت او د کوزې پښتونخوا تېرا سیمه له ننګرهار څخه بېلوي. د دغه غره اوږدوالی ۱۸۰ کیلومتره، منځنی لوړوالی يې ۳۵۰۰ متره دی او لوړه څوکه يې سپکارام نومېږي، چې ۴۷۵۵ متره لوړوالی لري. د سپین غره ځینې څوکې د کال په زیاتره موسمونو کې له واورو ډکې وي، د سپین غره لمنې ښکلې او ښېرازه ځنګلونه لري. ځینې مهمې درې يې، باندر دره، عبدالخېلو تنګی، پېښې تنګی، مامنددره، کوټ دره، د هسکې مېنې جو دره او غوښت دره، پچیر او اګام دره او داسې نورې دي.

همدارنګه تورغر د ننګرهار دویم ستر غر دی، چې د ننګرهار لوېدیځ لور ته له درونټې پیل او د کابل تر ختیځ پورې رسېږي. د تور غر اوږدوالی هم تقریباً ۱۵۰ کیلومتره او لوړه څوکه يې ۴۱٦۷ متره لوړوالي لري، تور غر د سپین غر برعکس ځنګلونه نه لري.

ننګرهار ولایت له سره روده پرته نور سیندونه نه لري، خو سور رود هم تل بهاندې اوبه نه لري، یوازې په پسرلي کې او کله کله د سېلابونو اوبه لري. سور رود د سپین غره له غوربند غاښي څخه سرچینه اخلي او د خپل بهیر په اوږدو کې ورسره له ښي لوري د وزیرو خوړ، د حصارك، ماماخېلو او مرکي خېلو خوړونه په فتح اباد کې یو ځای کېږي. سور رود له غوربنده مخ په شمال بهېږي او تر درونټې لږ ورکوز له کابل سیند سره، چې د درونټې له بربښنا بند څخه ننګرهار ته ورتوییږي، یو ځای کېږي. د کونړ سیند یوازې د کوز کونړ، کامې، ګوشتې او لالپورې ولسوالیو اوبې ځمکې خړوبوي.

ننګرهار د کابل – پېښور تر منځ پر لویه ټرانزیټي لاره پروت دی، له درونټې تونله د ډیورنډ له فرضي کرښې تر تورخم بندره ۹۲ کیلومتره واټن دی، همدې ټرانزیټي لارې په ننګرهار کې د کار پیدا کېدو ښه امکانات رامنځته کړي او په دې توګه يي د هېواد او په ځانګړي ډول د ختیځو ولایتونو په اقتصاد کې خورا فعاله ونډه اخیستې ده.

سوداګري په ننګرهار کې د ژوندانه تېرولو تر ټولو ښه وسیله ده، د ننګرهار ځینې سوداګر پر هېوادنیو سوداګریو سربېره پر نړیوالو سوداګریو هم بوخت دي. نړیوال سوداګر د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو؛ لکه، چین، جاپان، ازبکستان، ترکمنستان، هند، پاکستان او نورو څخه د خپلو شرکتونو له لارې مالونه راوړي. دا وړ سوداګر لږ دي. د غلې دانې، څارویو، لرګیو او دې ته ورته شیانو واړه سوداګر په کور کلي کې ګرځي، د خپلې سوداګرۍ توکي اخلي او ښارونو ته يې وړي. واړه سوداګر يې له شاوخوا ولایتونو څخه هم د خپلې سوداګرۍ وړ توکي پېري دا سوداګر بیا په جلال اباد، کابل، مزار، پېښور او نورو ښارونو کې دغه توکي پلوري.

تر اوسه په ننګرهار ولایت کې لږ شمېر طبیعي زېرمې تثبیت شوې دي، چې راسپړل يې دوام لري. د یادولو وړ طبیعي زېرمې يې د ډبرو سکاره او مرمر دي. د ننګرهار د خوګیاڼو د مرمرو کانونه ډېر مشهور دي، چې له تېرو څو کلونو راهیسې يې راویستنه دوام لري.

ننګرهار ولایت د صنعت لپاره غوره چاپیریال لري؛ ځکه چې اقلیم يې ټول کال د کار کولو لپاره وړ دی او د هېواد د نورو سیمو په پرتله د پاکستان د کراچۍ له سوداګریز بندر سره لږ واټن لري. د افغانستان د اوسمهال ملکي وېش او اداري تشکیل له مخې، ننګرهار لومړۍ درجه ولایت دی، چې جلال اباد ښار يې اداري مرکز دی. جلال اباد ښار نه یوازې د ننګرهار، بلکې د ختیځو څلور واړو ولایتونو یوازینی لوی ښار دی، چې د ژوندانه د اړتیا وړ زیاتره توکي له همدې ښاره پېري. په ننګرهار کې یو شمیر لویې او وړې فابریکې شته چې سلګونه تنه ځوانان او ښځې پکې په کار بوخت دي، لکه د ماربلو څو لویې فابریکې د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې موجودې دي، چې د هېواد بېلابېلو سیمو ته ترې ماربل انتقالیږي. دغه فابریکې د ۲۰۰۳ ز کال په اوږدو کې جوړې شوې، چې لا هم فعالیت کوي. په دغه ولایت کې د ارمونه يي لوښو یوه فابریکه موجوده ده چې پکې دېګ بخارونه او نور ګڼ لوښي جوړېږي. همدراز د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې د ریکشاوو څو لویې فابریکې موجودې دي، چې تراوسه يې سلګونه عرادې ریکشاوې جوړې کړې او لا هم فعالیت کوي. په دغه ولایت د زردوزۍ یوه لویه فابریکه چې لسګونه ښځې پکې په کار بوختې دي، فعالیت کوي. په یادو فابریکو کې د مریو غاړې، ګنډ افغاني کمیسونه او نورې غاړې جوړېږي. همداراز د نشایستې یوه کوچنۍ تولیدي فابریکه هم په جلال اباد ښار کې شته، چې ګڼې ښځې پکې پر کار بوختې دي. د کتان او پکولونو یوه ځانګړې فابریکه هم په بهسودو ولسوالۍ کې ده چې لسګونه کسان پکې کار کوي. د مالګې کارخانه هم په ننګرهار کې شته، د څپلیو یوه کوچنۍ فابریکه شته او همداراز یو شمېر نورې وړې فابریکې هم موجودې دي.

ننګرهار ولایت ۲۲ ولسوالۍ لري او د کلیو او پراختیا ریاست شمېرو له مخې، ۱۲۹۱ لوی او کوچني کلي لري، خو د کرنې او مالدارۍ ریاست د معلوماتو له مخې، ننګرهار ولایت ۹۹۲ لوی او ۱٦۱ کوچني کلي لري، چې جلال اباد د افغانستان له پنځو لویو ښارونو څخه شمېرل کېږي او د نفوس د تراکم له مخې، یو ګڼ مېشته ولایت دی. د ولسوالیو نومونه يې په دې ډول دي: اچین، بټي کوټ، چپرهار، هسکه مېنه، ښبوه، خوګیاڼي، شېرزاد، پچیراګام، حصارک، کوټ، نازیان، سپین غر، غني خېل، ګوشته، مومندره، لعلپوره، بهسود، سره رود، دره نور، دورбابا، رودات او کامه.

په ننګرهار کې هر کال د نارنج ګل دودیزه مشاعره او مېله ترسره کېږي، چې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه ورته شاعران، لیکوال او فرهنګپال راځي. دغه مشاعره شاوخوا نیمه پېړۍ لرغونتوب لري، چې لا هم په هر پسرلي کې نمانځل کېږي.

ورزش په ننګرهار کې ډېره سابقه لري او له ډېر پخوا څخه په یاد ولایت کې مینه وال لري او لاهم ترسره کېږي، په دغه ولایت کې ورزشي کلبونه موجود دي، چې ځوانان په بېلابېلو ورزشي څانګو کې روزي، لکه کرېکټ، والیبال، فوټبال، بوکسېنګ، کیوکېشن، تکواندو، کانفو توا، باسکېټبال، د بدني ښکلا لوبه، غېږه نیول او داسې نورې ګڼې لوبې شته، چې ځوانان پکې د مجربو استادانو له لوري روزل کېږي. همداراز په لرې پرتو ولسوالیو کې یو شمېر نورې لوبې هم شته، چې ځوانان پرې بوخت دي.

دا چې ننګرهار د هېواد له سمسورو ولایتونو څخه دی، نو ډېری خلک يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، په ډېریو ولسوالیو کې يې اوبه پرېمانه دي چې پراخو کرنیزو تولیداتو ته يې زمینه برابره کړې ده. په سبزیجاتو او غلو دانو کې دغه تولیدات لري: بادرنګ، رومیان، پیاز، توری، بېنډۍ، کدو، ګلپي، مولۍ، الو، کچالو، غنم، وریجې، جوار، ږدن، وربشې او داسې نور.

په دغه ولایت کې د ستروسو کورنۍ ښه حاصل ورکوي، چې د ننګرهار د ناوې پراختیا پروژه يې ښه بېلګه ده. همدارنګه په دغه ولایت کې هندوانې، انګور، زردالو، شفتالو، الوچې، امروت، خټکي او داسې نور ښه تولیدات لري او په وچو مېوو کې جلغوزي، بادام، چهارمغز او داسې نور لري.

په ننګرهار کې د اوبو لوی بند درونټه ده، چې شاوخوا درې مېګاواټه برېښنا يې تولید کړې ده. دغه بند لسګونه کاله پخوا د یوې روسي کمپنۍ له لوري جوړ شوی، چې اوس هم فعالیت کوي. د زیړي بابا بند چې په ښېوې ولسوالۍ کې موجود دی، دغه بند په ۱۳۸۵ لمریز کال کې يې د جوړېدو چارې بشپړې شوې، دغه بند د کوزکونړ ولسوالۍ په زرګونو جریبه ځمکه خړوبه کړې ده.

د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې د بودایانو لرغوني معبدونه او آثار لا هم پر ځای پاتې دي. سراج العمارات، امان الله خان مزار، پاچاخان او داسې نورو مزارونه هم پکې موجود دي.

په ننګرهار کې یو موزیم موجود دی، چې د هډې موزیم په نوم یادېږي. دغه موزیم د ننګرهار د اطلاعات او کلتور د ریاست په چوکاټ کې دی. دغه موزیم ډېر لرغونتوب لري، چې د کورنیو جګړو په ترڅ کې څو ځله وران شوی او بیا لږ لږ جوړ شوی دی چې اوس هم ډېره توجه نه ده ورته شوې او کومه ځانګړنه نه لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۲۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ۴۷۳ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰،۷۰ |
| £ | ۹۴،۵۰ |

### بېړنی شمیري

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# تأثیرات مثبت وبای کرونا بر محیط زیست

نویسنده: عکاشه نثار
همکار تحقیق مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی

محیط زیست سالم از نیاز های اساسی درحیات بشری است که در فقدان آن، زندگی انسانها با انواع مختلفی ازمشکلات ونا بسامانی ها مواجه خواهد بود. زندگی هر فرد بسته به نوع محیطی که درآن زیست می کند، جدا ازشرایط اجتماعی و فرهنگی آن، ازوضعیت اقلیمی و طبیعی اش نیز متاثرمی شود. کارشناسان برای تشخیص وتعیین حد اوسط عمر در یک کشور، تاثیرات محیط زیستی را به عنوان متغیراساسی در نظر گرفته و معتقداند که در مرگ و میر مردمان شرایط زیستی نقش اساسی را دارا می باشد. این واقعیتی است که به عنوان یک اصل بدیهی هیچ کسی نمی تواند آن را نادیده گرفته و یا تاثیر محیط زیست بر جسم و روان انسان را احساس نکند.

با این حال، مشکلات محیطی وآلودگی های آن ازچالش های جدی برای حیات آینده بشر بوده وبا رشد روزافزون این مشکلات، گرفتاری های زیادی نیزبرای انسانها خلق می شود. تغییرات اقلیمی، افزایش ذرات سمی درهوا و رشد سرسام آور امراض گوناگون، ازعمده مشکلاتی است که زندگی آینده بشر را تحت شعاع خود قرار داده وسالانه هزاران انسان قربانی آلودگی های محیطی وکمبود هوای پاک برای تنفس می شوند.

مشکلات محیط زیستی به عنوان یک پدیده فراگیر در تمامی کشورهای دنیا به نحوی وجود داشته وهیچ کشوری نیست که ازتهدیدات این پدیده کشنده مصئون باشد، اما میزان این تهدیدات ومشکلات ازکشوری تا کشوردیگرمتفاوت بوده و گونه های برخورد با آن نیز بستگی مستقیم به توان کشورها دارد. آلودگی محیط زیست یک مشکل جهانی بوده و بیش از هر چیز تدبیر مشترک تمامی کشورهای جهان در سطح کل را می طلبد. هرچند این موضوع یکی از مباحث جدی و اساسی در سیاست جهانی مبدل گردیده و تاکنون رژیم های مختلف حقوقی و کنوانسیون های زیاد در این خصوص میان کشورها شکل گرفته است؛ اما این مساله به لحاظ اینکه یک موضوع جدید می باشد، هنوز نتوانسته مانند سایر مسایل و موضوعات حیاتی بین المللی جا افتاده و تدابیر و مقررات مبارزه با آن، به عرف الزام آور بین المللی در کنار سایر موضوعات سیاسی و امنیتی جهان بدل گردد. با وجود اینکه محیط زیست دارد به تهدید اصلی و جدی علیه کره ما تبدیل می گردد، اما هنوز هم این موضوع در سیاست کشورها اولویت دوم بوده و کشورها در صورت تصادم منافع، به راحتی چشم بر معضله محیط زیست بسته و اجازه می دهند در راستای تامین منافع آنی، محیط زیست آسیب ببیند.

مشکلات محیط زیست در افغانستان

افغانستان ازجمله کشورهایی است که میزان آلودگی هوا ومحیط زیست درآن به شکل نگران کننده یی روبه گسترش بوده، کابل پایتخت کشور شهری است که آلودگی آن به گونه سرسام آور و نگران کننده ای بالا رفته و این در حالی است که هیچگونه تدبیر و سازوکاری مبارزاتی با این پدیده از سوی دولت وجود ندارد. روزانه میلیون ها ذرات سمی و مکروبی از کوچه ها و پس کوچه های کابل برخواسته و در کنار دود و گردوخاک بر فضای تنفسی شهروندان کابل مستولی گردیده داخل گلو و شش های شان می گردد. قبل از قرنطین ناشی از کرونا که گشت و گذار وسائط نقلیه را تا حدی محدود ساخته است؛ هوای کابل به حدی آلوده با دود وخاک و دیگرعوامل آلوده کننده می بود که اکثرا درهوا چترتاریک ومکدری را برفضای شهربه وجود می آورد و در زمین هم خاک وتعفن ناشی ازمواد مختلف آلوده کننده، افراد را گرفتارمشکلات عدیده یی می ساخت. طبعاً چنین وضعی امراض مختلف جسمی و روانی را به وجود آورده و زندگی مردم را تهدید می کند.

آلودگی هوای شهرهای افغانستان به خصوص کابل عمدتا ناشی از مصرف بی رویه مواد نفتی در موترها و وسایط نقلیه، خرابی جاده ها که دربسیاری موارد باعث ایجاد گرد و خاک می شود، نبود ساحات سبز که برای تصفیه هوا وجلوگیری از بروز گرد وخاک نهایت موثراست، فقدان سیستم کانالیزاسیون و سایرامکانات رفاهی درجامعه و درنهایت بی توجهی مردم برای نگهداری محیط زیست بوده وعلی رغم نگرانی های شدید از رشد روزافزون آلوده گی ها، بازهم توجه چندانی به این معضل نمی شود.

زمین امانت خدا و سرزمین ما میراث ملی ما باشد، تا زمانکه مردم در حصه محیط زیست خود احساس مسووولیت نکند و در کنار دولت همکاری نداشته باشند کاهش و ازبین بردن آلوده گی امر ناممکتن خواهد بود. دولت باید با گسترش تبلیغات در مورد محیط زیست فواید فضای سبز و مشکلات آلوده گی ایجاد می نماید مردم را آگاهی دهند و در این رابطه مدیریت جدی نیاز است.

مسوولیت شهروندان

انسان معاصر، نیازمند بازنگری در شیوه برخورد خویش با محیط زیست است، و باید مسوولیت های اجتماعی خود منحیث شهروند را بداند و بجا آورد. دین اسلام با توجه به نطافت و پاکی دارد آن را از جزء از ایمان بیان نموده و از هر آنچه که به شخص و یا اطرافیانش ضرر میرساند منع نموده است.

اداره محیط زیست و انجمن های حمایت از محیط زیست میتوانند با آگاهی همگانی و برانگیختن حس مسئولیت اجتماعی، افراد جامعه نسبت به محیط زیست جامعه را در حفظ محیط زیست با خود همکاری نمایند. براینکه حفاظت از محیط زیست وظیفه همگان تلقی شود باید از تمام نهاد ها به شمول نهاد های آموزشی، تولیدی، خدماتی و نظارتی... دعوت شود تا در این رسالت مهم ملی؛ همکار اداره محیط زیست بوده حد اقل در بخش آگاهی عامه سهم خویش را اداء نمایند.

نیاز جدی است تا فرهنگ حفظ ساحت سبز و غرس درختان آموزش داده شود، این فعالیت نیاز به کار جدی دارند ولی بعد از یک مدت این فرهنگ در میان مردم نهادینه خواهد شد.

کرونا دوست طبیعت

شیوع کرونا از سه ماه به این طرف؛ از یکسو در هوای شهر های بزرگ کشور تاثیرات مثبت به جا گذاشته است، اما از طرف د یگر گسترش سریع ویروس سبب گردیده تا تعداد مرگ و میر زیاد گردد.

تعطیل شدن پرجمعیت ترین شهرهای جهان و مراکز شلوغ سبب گردید آلوده گی کاهش یابد، هرچه فعالیت‌های انسانی کمتر باشد کره‌ی زمین در آرامش بیشتری خواهد بود زیرا درپی فعالیت‌های انسان منابعی مصرف می‌شوند که اثراتی همچون آلودگی آب، خاک، هوا و تولید پسماند را درپی دارند.



آلودگی هوا یکی از عامل‌های اصلی تغییرات اقلیمی است ورود کرونا به عرصه جهانی، فعالیت‌های انسان را تحت تاثیر قرار داده و مصرف انرژی و در نتیجه آلودگی هوا را کاهش داده است. حضور کمتر انسان ها به محیط سبب شده است که صید ماهی، دام گذاری برای حیوانات و بریدن درختان کمتر شود.

قضاوت درخصوص پیامدهای کرونا و پساکرونا بر محیط زیست تاحدودی دشوار است اما کرونا در واقع زنگ خطری برای کلیه انسان‌هاست تا دوباره به خود رجوع و در نحوه استفاده از منابع زمین تجدید نظر کنند.

کرونا یک اصل اساسی دیگر را متذکر شد که اکنون دیگر زمان آن رسیده است به محیط زیست احترام کافی بگذاریم و رفتار با محیط زیست از یک فرد تا دولت‌های کوچک و بزرگ جهان توام با مسئولیت پذیری و بر اساس اکولوژی خاص منطقه باشد زیرا شاید که حضور این ویروس در نتیجه انتخاب طبیعی بوده و فعالیت مخرب انسان در طبیعت سبب پیدایش این بیماری‌ها برای مهار گونه بشر باشد.

ویروس کرونا از دو مسیر باعث شده «آلودگی هوا» و همچنین تبعات زیست محیطی این بحران قدیمی در آسمان کلان‌شهرهای جهان، اکنون «فروکش» کند و نفس شهرها تازه شود. این بازی دوجانبه کرونا – ضربه مهلک به انسان‌ها از یکسو و از سوی دیگر نجات محیط زیست از آلودگی- در شرایط فعلی به دلیل تهدید فراگیر جان انسان‌ها چندان مورد توجه عمومی قرار ندارد به طوریکه همه مردم دنیا به شکل متعارف روی نقش منفی این ویروس متمرکز شده‌اند. اما بررسی‌هایی که در پنج کشور آمریکا، انگلیس، سویدن، سوئیس و ژاپن در این باره انجام شده است، نشان می‌دهد: کاهش فعالیت‌های صنعتی و همچنین رفت و آمدهای درون شهری ناشی از قرنطینه خانگی تحت تاثیر کرونا باعث شده غلظت ذرات آلاینده در هوای شهرهای دارای سابقه آلودگی به شکل محسوس کاهش پیدا کند.

انسان جزئی از محیط زیست است، اما در دهه‌های اخیر و در نتیجه پیشرفت‌هایی که در زمینه فناوری نصیب شده، این تَوَهم برای او ایجاد شد که گویا فرمانروای مطلق محیط زیست و منابع طبیعی است و در نتیجه این پندار نادرست متعاقب آن امروزه دشواری‌های محیطی فراوان، متنوع و گاه خطرناکی برای خود، دیگر زیستمندان و حتی طبیعت به وجود آورده است، اما این ویروس اصل او را برایش بیان نمود.

## سرچینه: د تدارکاتو کمېټې رییس او دوه نور لوړپوړي چارواکي د فساد په تور څارنوالۍ ته معرفي شوي

په ارگ کې د عملیاتي واحد د کار شفافیت په اړه د اندېښنو په لړ کې ولسمشر غني ته نږدې کسان هم په اختلاس تورن شوي دي.

مسیر ورځپاڼې ته یوې حکومتي سرچینې د نوم نه ښودو ویلي، چې د ولسمشرۍ ماڼۍ حقوقي مشاوریت لخوا د تدارکاتو کمېټې رییس الهام عمر هوتکي، پخوانی مالیې وزیر او د ولسمشر سلاکار همایون قیومي او په استانبول ښار کې د افغانستان کونسل زکریا بارکزی د فساد په یوه قضیه کې د لاس لرلو په تور څارنوالۍ ته معرفي شوي دي.

ویل کېږي چې دغو کسانو په استانبول کې افغان کونسلگرۍ لپاره د ځمکې په پېرلو برخه ۲.۲ میلیون ډالر اختلاس کړی دی.

سرچینه وایي: « د ولسمشرۍ ماڼۍ حقوقي مشاوریت لخوا د تدارکاتو کمېټې رییس الهام عمر هوتکي، پخوانی مالیې وزیر او د ولسمشر سلاکار همایون قیومي او په استانبول ښار کې د افغانستان کونسل زکریا بارکزی د فساد په یوه قضیه کې د لاس لرلو په تور څارنوالۍ ته معرفي شوي. په دوی تور دی، چې د ترکیې په استانبول ښار کې یې کونسلگرۍ ته د ځمکې په پېرلو کې ۲.۲ میلیونه ډالر اختلاس کړی.»

ولسمشرۍ ماڼۍ په دې اړه څه نه وایي، خو لویه څارنوالي وایي، تر اوسه داسې کومه قضیه نه ده ورته رسېدلې. خو د ولسي جرگې د نړیوالو اړیکو کمېسیون وایي، چې د ترکیې په استانبول ښار کې د افغانستان کونسلگرۍ لپاره دفتر له خپلې اصلي بیې څو برابره قیمت اخیستل شوی او د تدارکاتو کمېټې رییس الهام هوتکي او څو نور چارواکي پکې لاس لري.

یاد کمېسیون زیاتوي، چې د دې موضوع په اړه یې له چارواکو د وضاحت غوښتنه کړې وه، خو هغوی په سیستماتیک او چټکۍ سره پیسې د دغه دفتر د اخیستلو په هدف ترکیه ته انتقال کړې وې.

د تدارکاتو کمېټې رییس الهام عمر هوتکي، د مالیې پخوانی وزیر همایون قیومي او په ترکیه کې د افغانستان کونسل زکریا بارکزی داسې مهال د فساد په قضیه کې په ښکېلتیا تورنېږي، چې د مالیې پخوانی وزیر لا هم د فساد په گڼو قضیو کې د لاس لرلو له کبله له هېواد څخه د باندې دی.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایگل چاپ

WAYGAL Printing Co.

WAYGAL PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

STAY HOME STAY SAFE

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د جون اتمه | ۵۴۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۵۰


## نړۍ



## راپورونه: اوپیک سازمان او متحدینو یې د تېلو د تولید بې ساری کمښت یوه میاشت نور هم تمدید کړ

۳

## بيير: له جرمني څخه د امريکايي پوځيانو وتل به د دواړو هېوادونه اړيکې زيانمنې کړي



د جرمني يوه لوړپوړي چارواکي ويلي چې له دغه هېواده د امريکايي پوځيانو د لويې برخې وتل به د دواړو هېوادونو اړيکې سختې زيانمنې کړي.

د دغه هېواد يوه لوړپوړي چارواکي پيټر بيير چې لومړۍ وزيرې انګېلامېرکل ته نږدې کس بلل کېږي، د جرمني خبري اژانس ډي پي اې ته ويلي، چېکه د امريکا ولسمشر دا ډول پرېکړه وکړي، د جرمني او امريکا اړيکې به سختې زيانمنې شي.

بيير زياته کړي: «خبره يوازې د ۹ زره ۵۰۰ پوځيانو نه ده، بلکې د هغو د کورنيو غړي او ټولټال د نږدې ۲۰ زره امريکايانو ده چې دا د امريکا او اروپا يا د اطلس سمندر د دوو خواوو ترمنځ پُل نړوي».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې د امريکا وال سټريټ ژورنال ورځپاڼې په يوه راپور کې ويلي وو چې امريکا غواړي چې له جرمني څخه خپل ۹۵۰۰ سرتېري وباسي. بلخوا د جرمني شپيګل انلاين ورځپاڼې خبر ورکړی چې دا پرېکړه به د روان کال په منې کې عملي شي او په جرمني کې به د امريکايي سرتېرو شمېر د ۵،۰۰۰ او ۱۵،۰۰۰ ترمنځ يو شمېر ته راکم شي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پرله پسې پر جرمني نيوکې کوي چې په ناټو کې يې د دوه سلنه مالي ونډې ژمنه نه ده پر ځای کړې.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې تر اوو میلیونو واوښتې

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کووېډ-۱۹ یا کرونا ویروس مثبتې پېښې له اووه میلیونه ۳۷ زره او ۳۸۴ ته ورسېدې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۴۰۳ زره او ۳۴۷ کسان مړه شوي او نږدې درې نیم میلیونه بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د نږدې دوو میلیونو مثتبو پېښو او ۱۱۲ زره او ۲۰۵ مړو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. دغه راز له امریکا وروسته برازیل د ٦۷۷ زره او ۹۴۹ مثبتو پېښو په درلودو سره دویم، روسیه د ۴٦۷ زره او ٦۷۳ مثتبو پېښو له کبله دریم، اسپانیا د ۲۸۸ زره او ٦۳۰ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېټانیا د ۲۸٦ زره او ۱۹۴ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم، هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس تر ټولو زیاتې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هند، ایټالیا، پیرو، جرمني او ایران په ترتیب سره د شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## منابع: قرار است گفت‌وگوهای میان افغانان در قطر برگزار شود



منابع نزدیک به طالبان می‌گویند که توافق‌های نخستین نشان می‌دهند که قرار است گفت‌وگوهای میان افغانان در قطر برگزار شود.

هرچند این منابع از زمان مشخص برگزاری این نشست چیزی نمی گویند اما تاکید می‌ورزند که توافق شده‌است تا پیش از برگزاری این نشست پنج هزار زندانی طالبان از بند حکومت افغانستان رها شوند.

سید اکبر آغا، فرماندۀ پیشین طالبان گفت: «به احتمال بسیار قوی گفت‌وگوها در قطر برگزار می‌شوند و امریکایان هم به این باور هستند که باید پیش از این گفت‌وگوها پنج هزار زندانی طالبان رها شوند.»

این در حالی است که زلمی خلیل‌زاد، فرستادۀ ویژۀ امریکا برای صلح افغانستان سفر تازه‌اش را به قطر، پاکستان و افغانستان آغاز کرده‌است.

از سویی هم طالبان با پخش تصویرهایی می گویند که در بخش‌های زیر ادارۀ شان به جنگ‌جویان این گروه از چگونگی توافق صلح با امریکا روند آگهی دهی را آغاز کرده‌اند. اما این گروه مشخص نساخته‌است که در کدام بخش‌ها این روند را آغاز کرده‌اند.


یکی از این فرماندهان طالبان در این باره می گوید: «آن دشمنان اسلام که گفته بودند که طالبان را از غارها بیرون می کنیم و به طالبان حقوق شان را هم نمی‌دهیم، اکنون با طالبان روی یک میز می‌نشینند و خواست‌های طالبان را می‌پذیرند.»

حکومت افغانستان می گوید که کابل آماده شرکت در گفت‌وگوهای میان افغانان است. صدیق صدیقی، سخن‌گوی رییس‌جمهور اظهار داشت: «حکومت افغانستان گام‌های مهم را در این پروسه برداشته است و هیئت گفت‌وگوکننده آمادۀ گفت‌وگوها هستند.»

طالبان گفته‌اند که آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان به رهایی پنج هزار زندانی این گروه وابسته‌است.

## ژوند

## د ژوند بې مانا اړخ ته ارزښت مه ورکوئ



هڅه وکړئ چې د ژوند پر بې مانا اړخونو سترګې پټې کړئ. کله مو چې دا ډول پوچ مسایل له خپل ذهنه لرې کړل، هغه وخت به د خپل ځان لپاره د تفریح زمینه برابره کړی. ډېر به مو لیدلي وي، کله چې یو ټیم لوبه بایلي، لوبغاړي یې څومره د غوسې او خپګان احساس کوي. دغه ډول که یې کله لوبه وګټله، نو خوښي یې بیا یو پر دوه کېږي. تاسو هم دا ډول یاست، که مو یو ځل د دې کړنې خوند ولید، نو له خپلې دې بریا به بې کچې خوند واخلی. د ځان لپاره وخاندئ، د دې پر ځای چې پر ځان پورې وخاندئ. په دې ډول شوخۍ سره کولای شی چې خپل ځان وپېژنی او پر دې پوه شی چې له انسانانو سره خطا ملګرې ده.

## که مو وزن مناسب و، ښکلي به هم وی



هغه کسان چې ډېر چاغ دي، که دوې نیمې کیلو هم خپل وزن کم کړي، له ورایه به یې په بدن کې توپیرونه ولیدل شي او له ظاهري ښکلا سره یې مرسته کوي. دوی چې له ډېر چاغوالي کړېږي، که لږ هم خپل وزن کم کړي، پر نفس به یې باور زیات او له خپلې روغتیا سره به یې مرسته کړې وي. څومره چې ډېر خواړه خوری، په هماغه اندازه مو په بدن کې انرژي تولیدېږي، نو د دې لپاره چې وزن مو کم کړی وي، د خوړو کچه مو ټاکلې اندازې ته را ښکته کړئ. هڅه وکړئ، څو د یوه ورغوي په اندازه غوښه وخورئ، مانا دا چې را کمه یې کړئ. کله چې هوټل ته ځی، کومه اندازه خواړه چې فرمایش ورکوی، نمایي یې کور ته درسره راوړئ، هڅه وکړئ چې د خوړو نمایې برخه مو مېوه او سابه وي. موږ او تاسې تر ډېره غوړ خواړه خورو، خو پام مو وي چې دغه څه د چاغوالي لپاره د یوه دام په څېر دي.




ماسټر ډېټ کارت

د عزيزي بانک ماسټر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزيزي بانک Azizi Bank